پوهندوی آصف بهاند

# «لښکر د معارف یو موږ تیارې رڼا کوو...»

## د تعلیمي انقلاب له پاره د قلملار ټولنې هلې

### دویمه برخه

په افغانستان کې د ورستیو څلورو لسیزو د ستونزو هر اړخ ته چې نظر واچول شي، د رامنځته کیدو عوامل او منفي پایلې یې موږ ته وایي چې د تعلیم نشتوالی د ټولو ستونزو د رامنځته کیدو لامل ده؛ نو پر دې بنا د هر ډول تحلیل پایله دا وایي چې په افغانستان کې یو ژور تعلیمي انقلاب او بدلون ته اړتیا لیدل کېږي.

له پاسنیو یادو ستونزو نه د خلاصون یوازینۍ لار د تعلیمي انقلاب په رڼا کې، په نوې بڼه د نوی نسل روزل دي داسې چې د خپل وطن د ملي، تاریخي حقایقو په رڼا کې په نوې پوهې او هنرونو سمبال ټولنې ته وړاندې شي.»

د قلملار ټولنې مسؤلین او ورسره کمپاین کونکي، د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې کلي په کلي گرځي او د خلکو په منځ کې د خپلو کمپاینونو پالیسي او موخې بیانوي.



دا یې په ځو ولایتونو کې د کمپاینونو په ترڅ د خبرو لنډیز دی:«

د ولس د ویښتیا کمپاین،

قلم لار نوي کمپاین کلی په کلی بې خلک وهڅو تر ځو خپل بچیان لوښي او زامن ښوونځیو ته ولېږي.

د خپلو بشري حقونو تر لاسه کولو لپاره بږغ پورته کړي.

خپله سیمه کې ښوونځي وغواړي.

د بندو ښوونځیو پرانیستلو او تعلیم عام کولو لپاره ټول یو موټی یو اواز سي.
نور په ویډیو کې وګورئ راځئ قلم لار سره تاسو هم په رضا کار ډول د خپل ولس لپاره اساسي خدمت وکړئ.

*****

د کندهار بولدک ولسوالي،

جمعې په ورځ قلم لار رضاکارانو کلي په کلي ګرځېدل خلکو ته د پوهې ، سولې او امن لپاره شعارونه ورکول.

#penpathVolunteers
#PenPathHumanRightsCampaign
#PenPathGirlsEduCampaign
#PenpathDoortoDoorCampaign
#PenPathEducationCampaign2021
#PenpathNonviolenceCampaign
#PenPathKandahar

کور په کور د قلم لار موټرسایکلونو کاروان،

قلم لار یو ځل بیا په کلیو کې خلکو ته د پوهنې پیغام ورکوي.

په موټر سایکلونو دا کاروان د کلیو کوڅوکې تعلیم غواړو ، نجونو تعلیم غواړو ، ژوند غواړو ، امن غواړو، سوله غواړو او خپل حقوق غواړو شعارونه ورکول.

تعلیم سوله راولي راځئ ورته په ګډه کار وکړو.

*****

د رڼا پوهې یو انقلابي کمپاین،

پرون جمعې ورځ قلم لار رضاکارانو لخوا کندهار بولدک ولسوالي کې د تعلیم لپاره یو ستر کمپاین ترسره سو.

رضا کاران په هغو کلیو کې ګرځېدل چې هلته ښوونځي نسته خلک یې هڅول چې د ښوونځیو غوښتنه وکړي خپل لوڼي زامن ښوونځیو ته ولیږي

او هم په کمپاین کې د تعلیم په ارزښت ، سولې او امن لپاره شعارونه وویل سول.

همدا لړۍ به روانه وي ترڅو د هیواد په هر ګوټ کې هر ماشوم ته قلم ، کتاب او ښوونځي پیدا کړو.

*****

تعلیم زموږ انساني، بشري، اسلامي حق دی، موږ یې د هر افغان ماشوم له پاره چې په هره سیمه کې اوسي، غواړو.

په افغانستان کې دري ځلوېښت کاله کېږي چې جګړه ده، د جګړې اصلي لامل همدا بېسوادي ده، چې موږ نن ورور ـ ورو سره وژنو افغانستان تر ټولې نړۍ وروسته پاتې دی او هغه دا دی چې موږ سواد نه لرو،

د دې له پاره چې مورې له دايمي جګړې څخه خلاص سو او د تل له پاره له ټولې نړۍ سره سيال ژوند ولرو، مورږ هم د نورو قومونو او هېوادونو رقم ژوند ولرو، يوازينۍ لاره دا ده چې مورږ په خپلو بچيانو باندې په جلۍ او په هلک باندې ښوونځی ووايو، ډاکتران يې کړو، انجينيران يې کړو، خبريالان يې کړو عالمان يې کړو چې د دې ټولنې له پاره سبا خدمت وکړي. د همدې له پاره مورږ کور په کور ـ کوڅه په کوڅه ګرځو او دا کمپاين نور هم روان وي او تاسو به له مورږ سره هکاري کوئ چې تر څو يو ماشوم هم له زدکړو څخه پاتې وي... مورږ به يې د تعليم حق خامخا غواړو...

د تعليم انقلابي کمپاين نن بيا د رڼا کاروان،

کلي په کلي د علم پيغام رسوو.

دلته نور تعليمي انقلاب غواړو. د تعليم رڼا به د افغان ترهره کوره رسوو.

پکتيکا ولايت خيرکوټ ولسوالي کليواله سيمه زمورږ تعليمي کمپاين

#پکتيکا

Pen Path

لښکر يو د پوهني مورږ تياري رڼا کوو،

تر هره کوره، کوره به د تعليم ږغ رسوو.

يو افغان ماشوم بايد بې ښوونځي پاته نسي.

پکتيکا ولايت متاخان ولسوالي زمورږ تعليمي کمپاين...»

د قلملار ټولنې مسؤلين له خپلو رضاکارو ملګرو سره د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې د بېلابېلو ولسواليو په کلو او کوڅو کې له خپلو تعليمي شعارونو سره ګرځي، کله ـ کله له خلکو سره کيني او د تعليم پر ارزښت خبرې ورته کوي، د خپلو شعارونو او بيانيو له لارې خلکو ته د تعليم کولو ذهنيت ورکوي او د نوي راتلونکي ژوند پر ارزښت باندې يې پوه کوي، دا په سپينه ورته وايي چې: که مو کوچنيانو تعليم ته مخه کړه راتلونکی ژوند به يې سمسور او خوښ وي او که تعليم ونه کړي، نو هر څه به مخ په وراني روان وي.



د تعلیمي انقلاب د کمپاین کونکو په لاسونو کې دا شعارونه لیدل کېدل:

ـ تعلیم غواړو،

ـ تعلیم روښنایي ده،

ـ تعلیم پرمختک راوړي،

ـ زموږ شعار تعلم،

ـ تعلیم ازادي راوړي،

ـ تعلیم د ازادئ لاره،

ـ زموږ شعار تعلیم ـ تعلیم،

ـ یوازې تعلیم افغانستان جوړولی شي،

ـ موږ د خویندو د تعلیم ملاتړ کوو،

ـ علم پر نر او ښځې فرض دی،

ـ د ښونځیو ساتنه پر مږو فرض دی،

ـ مکتب جای معرفت است...




نور بیا